**بسم الله الرحمن الرحيم**

**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## کله چې اوسني دولتونه پر یوه له سرچینو ډک دولت بدل شي، خلافت به بیا د امت اقتصاد ډېر پیاوړی کړي

د پاکستان د مسلمانانو اقتصاد د پیسو نړیوال صندوق تر حملې لاندې دی. د ۲۰۱۹م کال د مې په ۱۹مه لومړي وزیر عمران خان وویل: «زه تاسو ته اطمنان درکوم چې پاکستان به په سیمه کې د یوه لوی اقتصادي ځواک په توګه راپورته شي». په هر حال، دا د عمران خان تکراري تشې خبرې دي. د دوی کار یوازې استعمارګرو ته وخت ورکول دي، چې اقتصاد مو چور کړي. په حقیقت کې دا نظام هېڅکله نه غواړي چې مسلمانان اقتصادي ځواک شي. دا نظام د مسلمانانو لپاره د ویستفالین ملي دولتونو په تیورۍ ولاړ دی، دا تیوري نه پرېږدي چې د نبوت پر منهج خلافت په تاسیس سره دې د اسلامي دولتو له پراخ اقتصادي پوټانشیل څخه ګټه واخیستل شي.

پاکستان نفتو ته د اړتیا لپاره ولې دومره لګښت وګالي او سودي پورونه واخلي؟ په داسې حال کې چې خلافت به د ایران او سعودي غوندې له نفتو ډکې سیمې لري. ولې ایران د خوراکي توکو له کمښت نه وځوربېږي؟ په داسې حال کې چې خلافت به د پاکستان پرېمانه زراعتي سرچینې لري. د امت د سرچینو همدغه یو ځای کول به د دې لامل شي، چې خلافت به د نړیوال اقتصادي ځواک په توګه راپورته کېږي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

د ویستفالین ملي دولتونو مفکورې امت فلج کړی. دا مفکوره یو غربي ابتکار دی او موخه یې د خلافت دولت د بې سارې ودې پر وړاندې مقابله وه. د خلافت له نړېدو وروسته د امت په بدن کې د ملي دولتونو مفکوره د سرطان د دانې غوندې وکرل شوه، امت د استعمارګرو پر وړاندې کمزوری شو، ووېشل شو او د استعمار تر واک لاندې راغی. اسلام امر کوي چې مسلمانان دې یو موټی وي، دولت، خزانه، صنعت، زراعت او پوځ یې دې یو وي. پیغمبر صلي الله علیه وسلم امر کړی چې مسلمانان دې په یوه وخت کې یوازې له یوه خلیفه سره بیعت وکړي:

**«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَيَكُونُ خُلَفَاءُ فَيَكْثُرُونَ» قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: «فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ أَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»**

[بخاري]

***ژباړه:*** *د بني اسرائيلو د چارو سياست انبياوو کاوه. کله به چې يو نبي مړ شو، بل نبي به ورپسې راغی. په تحقيق سره له ما وروسته بل نبي نشته، خو خلفاء به وي او هغه به زياتېږي؛ نو دوی ورته وويل: موږ ته په څه باندې امر کوې؟ ويې فرمايل: لومړنی بيعت لومړنی دی هغه بشپړ کړئ او هغوی ته يې خپل حق ورکړئ، ځکه الله سبحانه وتعالی د هغه څه پوښتنه کوي، چې دوی يې رعايت او سرپرستي کړې ده.*

مسلمانانو ته دا اجازه نه ده ورکړل شوې چې يوازې په خبرو سره يو وي، خو په عمل کې له سياسي اړخه وېشل شوي وي. خلافت چې تاسيس شي لومړی کار به يې د اوسنيو اسلامي دولتونو يوځای کول او له منځه به يې د استعماري پولو لرې کول وي. اې مسلمانانو! جهد وکړئ چې اسلام مو يو ځل بيا د ژوند لاره شي، ترڅو په دنيا او اخرت کې بريالي شئ.

**حزب التحرير-ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

۱۴۴۰هـ.ق، کال د رمضان ۱۵مه

۲۰۱۹م، کال د مې ۲۰مه

د صدور ګڼه: ۵۸/۱۴۴۰

